مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوالان: یحیی مدرسی او حسین بشیرنژاد
ژباړن:سیلانی
۲۰۲۰/۱۱/۰۴

# د ژبو مړینه، لهٔ منځه تلل او ځان وژنه څنګه کیږي؟

## دویمه برخه

لهٔ ۱۹ پېړۍ را پهٔ دېخوا د ټولنیزو علومو پوهان پهٔ ځانګړې توګه د ژبې ټولنپوهان ډېری ژبه د یو ژوندي ژوي پهٔ توګه یادوي. دوی پهٔ دې باور دي، چې ژبه لهٔ پیدایښت وروسته د ماشومتوب او بلوغیت دورې ته رسیږي او کېداشي د ځینو لاملونو لهٔ کبله د یو تدریجي زوال پهٔ بهیر کې و مري او ځای یې یوه بله ژبه ونیسي. ( اچسون، ۱۹۷ :۱۹۹۵)
یاده مرحله یا دوره د « د ژبې د بدلون » پهٔ نامهٔ یادوي.
فسولد( ۲۱۳:۱۹۸۷)یاده مرحله داسې را پېژني : « د ژبې بدلون هغه حالت ته ویل کیږي، چې د یو ټولنې وګړي، هغه وګړي چې پهٔ دوه یا دریپور ژبو خبرې کوي، لهٔخپلې بومي یا اصلي یا هم لرغونې ژبې څخه د نورو ژبو پهٔ ګټه تېر شي. دغه حالت « د ژبې مړینه » پهٔ نامهٔ یادیږي. د « ژبې مړینه » اصطلاح هغه مهال کارول کیږي، چې یوازې په یوه ژبنیزه ټولنه کې د یوې ژبې ویونکي پاتې وي.«
اچسون ( ۱۹۷:۱۹۹۵ ) د ژبې د مړینې پر ځای د ژبې د بدلون یا تغیر اصطلاح کاروي. دی وایي: موږ د ژبې د بنې او نوم بدلون ته دتاریخ پهٔ اوږدو کې د ژبې مړینهٔ نهٔ وایو، د هغهٔ پهٔ باور لاتیني ژبه چې نن څوک پرې خبرې نهٔ کوي، یوه مړه ژبه نهٔ ده، ځکه چې فرانسوي، ایټالیوي او اسپانیولي ژبې پهٔ نوې بڼه د لاتیني ژبې بدلون موندل شوې بڼې دي. هغه وایي: « د تاریخ پهٔ اوږدو کې د ژبې لهٔ مړینې څخه زموږ موخه د یوې ژبې تدریجي بدلون نهٔ دی، بلکې د ژبې مړینه یوې غیر معمولي او ناڅاپي پېښې ته اشاره کوي، چې پهٔ ترڅ کې یې یوه ژبه پهٔ بشپړه توګه لهٔمنځه ځي.»
دیوید کریستال( ۷:۲۰۰۰) ګروهمن دی، چې د «ژبې بدلون» د ژبو د ویونکو لهٔ پاره یوه متداوله اصطلاح ده، چې پهٔ ترڅ کې یې د ژبې ویونکي پهٔ تدریجي او ناڅاپي توګه د یوې ژبې پرځای بله ژبه کاروي. دی وایي دا خوځښت او حرکت کېدای شي دیو کس او یا هم د یوې ډلې لهٔ خوا ترسره شي. نو پر دې بنسټ د ژبې د بدلون مرحله کېدای شي فردي یا هم ډلیزه وي. د ژبې پهٔ ډلیز بدلون کې پهٔ طبیعي توګه د ژبې مړینه د هغهٔ د وروستي ویونکي لهٔمړینې سره یوځای پېښیږي.
ژبپوهان د یادې پدیدې لهٔ پاره ځینې نور اصطلاحات هم کاروي. لهٔ هغې ډلې څخه « د ژبې لهٔمنځه تلل» او « د ژبې مړینه «ده. کریستال( ۲۰:۲۰۰۰) او اچسون (۱۹۸:۱۹۱۹۵) سربېره د ژبې د مړینې پر ځای د « د ژبې ځان وژنه » او د « ژبې وژل» اصطلاحات هم کاروي. هغه زیاتوي: « دا معمولي خبره ده کله چې یوه ژبه پهٔ ژبنیزه ټولنه کې لهٔ منځه ځي، نو ویوونکي یې چپ نهٔ کښېني، بلکې یوه نوې ژبه د غالبې ژبې پهٔ توګه ځانته خپلوي او ددې ژبې پهٔ واسطه پهٔ ټولنه کې خپل افهام و تفهیم او اړیکې ټینګوي.» دی هغه حالت چې پهٔ هغهٔ کې د یو ولس بومې ( لرغوني یا اصلي ) ژبه پهٔ ناڅاپي او بشپړه توګه لهٔ منځه ځي « د ژبې وژنه » پهٔ نامهٔ یادوي.
اچسون وایي یو بل حالت چې کېدای شي پهٔ یوه ټولنه کې د دوو ژبو لهٔ ټکر څخه چې یوه یې پهٔ لوړه ټولنیزه کچه کې وي او بله یې پهٔ ټیټه ټولنیزه کچه کې وي رامنځته شي. دی دا حالت داسې را پېژني: د لرغوني یا بومي ژبې ویونکي ( د ټیټې ټولنیزې کچې ژبه ) خپله پخوانۍ ژبه کاروي، مګر ورو ورو د بلې پیاوړې یا غښتلې ژبې جوړښت، ویيونه او ترکیبونه خپلې ژبې ته را دننه کوي، دا کار تر هغه وخته پورې دوام پیدا کوي چې موږ هغه پخوانۍ ژبه د یوې خپلواکې ژبې پهٔ توګه نشو پېژندلی. لهٔ یوې پیاوړې ژبې څخه دا ډول افراطي او یو اړخیزه پور اخیستل ددې


افغان جرمن آنلاین په درنښت ناسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

لامل کيږي، چي لرغوني ژبه د پياوړې يا نوې ژبې د يوې ګړدود بڼه ځانته غوره کړي او لرغوني يا بومي ژبه ځان وژنه وکړي.
اچسون په دې خبره ټينګار کوي چې د ژبې ځان وژنه هغه وخت را پيښيږي، چې دوه ژبې يو بل ته ډېر ورته وي. هغه د ژبو د ځان وژنې غوره بېلګه د « کريول» د ژبو له منځه تلل د يادې ژبې د څانګو له خوا ياوي.
د ژبې د مړينې پر وړاندې متضاده پديده د ژبې ساتنه ده. دا کار هغه وخت تر سره کېدونکی وي چې د يوې ژبنيزې ټولنې وګړي دا پرېکړه وکړي، چې د خپلو پلرونو، نېکونو او غور نيکونو ژبه کاروي. فسولد ( همان ) په دې ټينګار کوي چې په حقيقت کې د « ژبې ساتنه » په هغو ټولنو کې خپل ارزښت او مفهوم پيدا کوي چې وګړي يې د دوو ژبو ويونکي وي يا هم دوه ژبې کاروي، دا ځکه په هغو ټولنو کې چې وګړي يې يوه ژبه کاروي او بله ژبه نهٔ زده کوي، نو د ژبې ساتنه کومه ځانګړې معنا او مفهوم نهٔ لري.
ژبپوهانو د نوموړې پديې د څېړنو لهٔ پاره ځانګړې ډلبندي کوې او ځانګړي اصطلاحات يې د يادو ډلبنديو لهٔ پاره کارولي دي. رديش( ۱:۲۰۰۱) ژبې پهٔ دريبو ډلو وېشي. دی، هغه ژبې چې هېڅ لرغوني او اصلي ويونکي نهٔ لري، مړې ژبې بولي. هغه ژبې چې د ځوانانو او کم عمر ځوانانو تر منځ هېڅ اصلي ويونکی و نهٔ لري، هغه ژبې چې د احتضار او زوال پهٔ حالت کې ګڼي. دريېمه ډله هغه ژبې چې اصلي ويونکي يې ډېر لږ وي، دا ډول ژبې لهٔ ګواښ سره مخامخ يا ښکلي ژبې ګڼي.
ګرايمز ( ۸:۲۰۰۲) هم د « لهٔ خطر سره د ژبو مراحل» ډلبندي وړاندې کوي، دی دا ډلبندي پهٔ آلمان کې د ژبپوهانو د يوې غونډې( ۲۰۰۰ کال ) لنډيز ګڼي. د ګرايمز ډلبندي پهٔ لاندې ډول ده:
1. هغه ژبې چې خورا ډېرو ګواښونو سره مخامخ دي: دا ډله ژبې لږ ويونکي لري او ويونکي يې لهٔ۷۰ کلونو لوړ عمر لري. دا هغه کسان دي چې ډېری د غور نېکونو او نياګانو ياهم د نېکونو او نياوو د والدينو پهٔ عمر کې وي.
2. هغه ژبې چې ډېرو ګواښونو سره مخامخ دي: هغه ژبې چې ويونکي يې لهٔ۴۰ کلونو لوړ او ياهم د نېکهٔ او نيا پهٔ عمر وي.
3. هغه ژبې چې ګواښونو سره مخامخ دي: ددې ډول ژبو ويونکي د ۲۰ کلونو څخه لوړ يا هم د منځوي عمر خاوندان وي.
4. هغه ژبې چې مخ پر زوال دي: ددې ډول ژبو ويونکي ډېری د پاخهٔ عمر خاوندان او د ټولنې يوه برخه ماشومان وي. ډېری ماشومان پهٔ بلې ژبې خبرې کوي.
5. هغه ژبې چې تلپاتې دي، مګر لهٔ ګواښونو سره مخامخ دي: پهٔ دې ډول ژبو کې ټول د پاخهٔ او کوچني عمر خاوندان خبرې کوي، مګر شمېر يې لږ دی.
6. روغې يا سالمې ژبې : دا ډول ژبې لهٔ ګواښ او خطر سره مخامخ نهٔ دي. تمه کيږي چې ټول ځوانان او نژادي ډلې يې زده کړي.
کريستال ( ۲۳:۲۰۰۰) د زيانمنو ژبو يوه درې ګوني ډلبندي وړاندې کوي، چې دی ياده ډلبندي تر ټولو پېژندل شوې ډلبندي بولي. پهٔ دغه وېشنه کې ژبې پهٔ دريبو برخو وېشل کيږي:
1. روغې يا سالمې ژبې
2. لهٔ ګواښ او خطر سره مخامخ ژبې
3. مړې ژبې
دی وايي: مايکل کراس هغه ډلهٔ ژبې چې لهٔ احتضار يا زوال سره مخامخ دي، پهٔ پورتنيو دريبو ډلو ور زياتوي او د هغهٔ موخه هغه ژبې دي چې ماشومان يې نور د مورنی ژبې پهٔ توګه نهٔ زده کوي. هغه زياتوي چې ځينې ډلبندۍ ډېرو جزيياتو ته ننه کيږي، چې يوه پنځه ګوني ډلبندي يې د بېلګې پهٔ توګه وړاندې کوي:
1. تلپاتې ژبې : ددې ژبو ويونکي پهٔ کافي اندازه وي او د تاريخ پهٔ اوږدو کې هېڅ ډول خطر دوی نهٔ شي ګواښلی.
2. وړې تلپاتې ژبې : دا ډول ژبې تر ۱۰۰۰ ډېر ويونکي لري چې پهٔ کوچنيو خپلواکو ټولنو کې ژوند کوي،مګر قومي هويت ته پر پابندۍ ژوند کوي.
3. هغه ژبې چې لهٔ خطر سره مخ دي: ددې ډلې ويونکي دومره وي، چې ددې ژبو د پايښت لهٔ پاره لاره هواره کړي، مګر د نوموړو ژبو پايښت د ټولنيزو شرايطو په رامنځته کېدو او ملاتړ سره تر لاسه کيږي.
4. هغه ژبې چې تقريباً ګونګې دي: دا هغه ژبې دي چې هېڅوک لهٔ نوموړو ژبو د مورنی او دويمې ژبې پهٔ توګه دافهام او تفهيم پهٔ موخه ګټه نهٔ پورته کوي.
کهٔ څهٔ هم د ژبې مړينه او لهٔ منځه تلل يو طبيعي امر دی او اوس مهال پورې ترلې خبره نهٔ ده؛ مګر د نوموړې پديدې څېرېدل پهٔ ځانګړې توګه د «دلرغونو ژبو مړينه» پهٔ نړيواله کچه پهٔ دې وروستيو کلونو کې د ژبپوهانو او ټولنپوهانو ځانګړې پاملرنه ځانته را ګرځولې ده.
نن ورځ ډېری ژبپوهان لکه: رزمری استلری(۱:۲۰۰۰)، نانسی ريونبرګ (۱:۲۰۰۴)، مايکل کاهيل ( ۱:۲۰۰۵) او داسې نور پهٔ دې باور دي، چې د نړۍ د ۶۸۰۰ ژونديو ژبو څخه خوا و شاه نيمه برخه ژبې ددې پېړۍ تر وروستيو پورې لهٔ منځه ځي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د چاپیریال پېژندنې پوهان په دې باور دي، چې د ژبو د له منځه تللو سرعت د نباتاتو او حیواناتو له مړینې او له منځه تللو څخه په مراتبو ډېر دی. د چاپیریال پېژندنې د ډولونو مختصص پرفیسور بیل سادرلند وایي: که څه هم الوتونکي او تي لرونکي ژوي ډېر له ګواښونو سره مخامخ وي او لږ عمر لري، خو ژبې د ډېرو عمرونو له درلودلو سره سره ژر له منځه ځي ( کونر، ۲۰۰۳:۱)

استلر(۱:۲۰۰۰) وایي: د ژبو د له منځه وړلو سرعت د تي لرونکو ژویو په پرتله دوه برابره او د الوتونکو په پرتله څلور برابره دی، ددې لړۍ په دوام سره به یو وخت نړۍ لږو ژبو د سیطرې لاندې وي»

نن ورځ د نړۍ ۹۰ سلنه ژبې له سل زره کسانو لږ ویونکي لري او ۳۵۷ ژبې له ۵۰ لږ ویونکي لري، همدارنګه ۴۶ خوا وشا ژبې یوازې یو ویونکی لري، چې یادې ژبې د له منځه تللو له لوړ ګواښ سره مخامخ دي. کونر، همان په تېرو ۱۵۰۰ کلونو کې خوا وشا ۴/۵ سلنه ژبې په ټوله نړۍ کې ورکې شوي یا هم له منځه تللې دي، دا په داسې حال کې ده چې یاده موده کې ۱/۳ سلنه د الوتکونو ډولونه او ۹/۱ سلنه تي لرونکي ژوي له منځه تللي دي. له۱۶۰۰ م کال تر څخه تر اوسه د شمالي امریکا د قبایلو له ۱۷۶ ژبو څخه ۵۲ ژبې ګونګې شوي دي او د استرالیا له ۲۳۱ لرغونو ژبو څخه ۳۱ ژبې له منځه تللي دي.( همان منبع)

په نړیواله کچه د ژبو په هکله وړاندې شوي ارقام او شمېرنې د یادو ارقام په شان خواشینونکي دي. ګرایمز(۱:۲۰۰۲ ) وایي دا مهال د نړۍ ۴۵۰ ژبې د خپل ژوند وروستۍ سا اخلي. کراوس په ۱۹۹۵م کال اټکل کوي چې د امریکا ۱۷۵ بومي ژبې پاتې دي، چې له هغې ډلې څخه ۱۵۵ ژبې چې ۸۹ سلنه راځي د زوال په حالت کې دي او د الاسکا له۲۰ لرغونو ژبو څخه یوازې دوه ژبې د والدینو له لوري راتلونکي نسل ته لېږدول کیږي. ( کرافورد،۱۹۹۸:۵)

د ژبو د مړینې مراحل او خوځښت د امریکا په قاره کې په ځانګړې توګه په شمالي امریکا کې ډېره حاده ده. جیمز کرافورد( ۱:۱۹۹۸) پورته مسألې ته په تائید سره وایي چې د یادې قارې سلګونه بومي ژبې له۱۴۹۲ م کال را په دې خوا لهٔمنځه تللي دي او د نورو ډېرو ژبو یې لا هېڅ څرک موږ ته نهٔ دی راپاتې. دی زیاتوي چې یادې لرغوني ژبې دومره ژوندی پاتې شوي دي چې د شلمې پېړۍ ژبپوهانو ته دا امکان په لاس ورکوي چې د دغو ژبو له وروستیو ویونکو سره لیدنه وکړي او له هغوی څخه د نوموړو ژبو ځینې ګرامري برخې او ویيونهٔ خوندي کړي.

لکهٔڅرنګه چې پورته مو یادونه وکړه، ژبه هم د نورو ژوندیو ژویو په څېر پیدایښت، بلغویت او مړینه لري او دا مراحل د ژبو د ماهیت له بنسټیزو توکو څخه شمېرل کیږي. لرغوني یا پخوانۍ ژبې مري یا هم خپله بڼه بدلوي او نوې ژبې یې ځای نیسي. لکه څرنګه چې ریونبرګ ( ۲:۲۰۰۴) وایي: د تاریخ په اوږدو کې د ژبو زېږېدنه او مړینه په داسې ډول ترسره کیږي چې په هغهٔ کې ژبنیزه موازنه یا انډولتوب ساتل شوی دی. هغه په دې معنا چې هره ژبه له منځه تللې ځای یې بلې ژبې نیولی دی. مګر څېړنې ښیي چې په وروستیو لسیزو کې یاده موازنه یا انډولتوب زیانمن شوی او د ژبومړینه د زېږېدو په پرتله زیاته شوې ده. ددې زیانونو لامل سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ګډوډۍ بنودل شوي دي، چې په وروسته سرلیکونو کې به پرې بحث وکړو.

راتلونکې لیکنه

د ژبو د مړینې شرایط او لاملونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ